سرلوخ مرادزی

۲۰۱۷ / ۰۳ / ۲۱

# پښتو په يوه ليکبڼه

د تاند په ملي بريښناپاڼه کې مې يوه غونډله(جمله) داسې تر سترګو تېره شوه«د عدليې وزارت د هغو کسانو شمېر اعلان کړ چې د افغانستان تابيعت يې **پرېِ ايښی** يا اخيستی»

دلته غواړم د **پرېِ ايښی** ويي( کلمه) په اړه يوه لنډه تبصره وليکم:

**پرېِ ايښی**، د پرېښودل له کړنوم (مصدر) څخه جوړيږي او په نږدې تېرمهال(نږدې ماضي) پورې اړه لري.

داسې کړنومونه چې د **(پرېِ)** مختاړي په مرسته جوړيږی، په دې ډول دي:

ـ پرېښودل(لېږند کړنوم)Transitive Verb

ـ پرېکول(لېږند کړنوم)Transitive Verb

ـ پرېکېدل( بېچاره کړنوم)Passive Verb

ـ پرېمينځل(لېږند کړنوم)Transitive Verb

ـ پرېيستل(لېږند کړنوم) Transitive Verb

ـ پرېوتل(نالېږند کړنوم)Intransitive Verb

له دغو ټولو کړنومونو څخه جوړشوي کړـ ونه( فعلونه) يا کړوال ستاينومونه ( فعلي صفتونه) بايد تر يوې قاعدې لاندې جوړ شي، لکه په لاندې بېلګو کې:

| **کړنومونه:** | **د کړ( فعل) يوه بېلګه:** | **د کړوال ستاينوم يوه بېلګه:** |
|---|---|---|
| **ـ پرېښودل څخه :** | پرېږدم | پرېيښی |
| **ـ پرېکېدل څخه:** | پرېکېږي | پرې شوی |
| **ـ پرېمينځل څخه:** | پرېمينځم | پرېمينځلی |
| **ـ پرېيستل څخه:** | پرېباسم | پرېيستلی |
| **ـ پرېوتل څخه:** | پرېوځم | پرېوتلی |

په داسې کړونو او کړوال ستاينومونو کې لکه **« پرېِ ايښي»** ته چې اشاره وشوه، د (الپ) ليکل بېځايه او اضافي دي او هغه ټول چې پورته ياد شول، بايد په يوه بڼه وليکل شي او قاعده په يوشان پلې شي.

په مننه




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ